وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

٤ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

په الجزايرکي دحکومت اومسلمانانوترمينځ مخالفت زورنيسي

الجزيره - دزمري ٦ نيټه :

په الجزاير کي دخلکومخالفت دحکومتي مقاماتوپه وړاندي دپخواپه شان روان دي .
پرون دالجزايرپه جنوبي برخواودترانيه په ښارکي دوه ځايه اوروولګيده اوپوي ښځي اودموټروپوي اړي ته زيات تاوان ورسيد . دالجزاير راديو پدي هکله څه نه دي ويلي ولي په يوبل رپوټ کي ويل شوي چي دالجزاير پوليسواعلان وکړچي دالجزايردجنوب په سل کيلومتري کي دزوفيادالفتح جومات امام دجمعي دورځي دوېناکولو په تورونيول شو اودغه جومات دلمونځ کونکوپرمخ وتړل شو. له بلي خوادالجزاير ژاندارم اعلان وکړچي زوفياکي ددغه ښاردجمعي دورځي په هغومظاهروکي چي يوتن پکي مړاو ١٥ تنه نورپکي ژوبل شوي دګڼون کولو په دليل لس کسه مسلمانان نيولي دي .

الهي لارښووني

لوي خداي جل جلاله فرمايي :
هيڅ داسي مصيبت نشته چي په ځمکه کي اوياستاسي پرخپل نفس نازليږي اوموږهغه ترپيداکولومخکي په کتاب کي نه وي ليکلي ، دغسي کول دالله لپاره ډيرآسانه کاردي.

الحديد - ٣٢ آيت

شماره مسلسل (٥٤١) شماره (.٦) پنجشنبه (٨) اسد ١٣٧١هـ ش (.٣) محرم الحرام ١٤١٣هـ ق (.٣) جولاي ١٩٩٢ م

په نيول شوی کشميرکی دپوليسودډزو له امله(.٦) تنه ښځی ټپيانی شوی

سرينګر - دزمري ٦ نيټه :

په نيول شوي کشميرکي دمځودلاريون په صفونوباندي دېرغلګرو هندي ځواکونودحملي په نتيجه کي شپيته تنه ژوبل شوي .
دارسيدلي رپوټونو پراساس دسرينګردسيمي ښځودهندي ځواکونو ديکښنبي دورځي داقدام پرضداودنيول شوي کشميردښاروندوځخه دځلوېښتو وګروپه نيوني باندي داعتراض په توګه په مظاهرو اولاريونونولاس پوري کړچي دپوځي ځواکونوديوي حملي سره مخامخ شوي. رپوټ زياتوي هندي ځواکونو دکورونودپلټني اوتلاشي په وخت کي ځلوېښت تنه دباره مولاپه سيمه کي نيولي دي .

بينظيربوتوصدراعظم سابق پاکستان اولين بيانيه دفاعي خودرادرمحکمه ارائه کرد

اسلام آباد - ٦ اسد :

بينظيربوتو صدراعظم سابق پاکستان اولين بيانيه دفاعي خودراکه درپاسخ به يکي ازهفت مورد اتهام فسادعليه اوست درمحکمه ارائه کرده است .
بينظيربوتو دربيانيه دفاعي خودگفته است که اتهام مربوط به دادن قراردهاي تهيه گازمايع به بستگان ودوستانش صحت ندارد واوبيگناه است . دراين بيانيه همچنين گفته شده است که اومورد‌ي براي پاسخگوئي ندارد ورئيس جمهوراسحق خان که اتهامات را وارد آورده اززمان برکناري دولت بينظيربوتو درسال ١٩٩. تاکنون باسوئنيت رفتارکرده است .
خبرنگاران دراسلام آباد ميگويند که بينظيربوتو اززمان کناره گيري اش درسال ١٩٩. آماج اتهامات

ص٤

دکابل امنيت

هغه ربړه چي مسئوولين ترپوښتنولاندي راولي

دسره ښکيلاک دتيري اوتريخ دوروروسته چي زموږمجاهدولس دکومي ورځي منتظرؤ، هغه راغله ، خوله ځان سره يې دومره مشکلات راوړل، چي که يوښپړسياسي تدبراوفراست نه وي، نوهيڅ امکان نه لري، چي دملت داغرقه بيړۍ دامن اوخوښي ساحل ته روغه رمټ ورځي . زموږ دانقلاب ترمخ لومړي چيلنج دامريکا په مشرۍ دګردکفرهغه ويره ده ، چي داسلام او مسلمانانواوپه تيره بي بياداسلام دبياحياله خوځښتونونه لري . نن سباچي دلويديځ مطبوعات اوخبري رسنۍ وکتل شي، ګرده پاملرنه يې دمسلمانانوخواته ده ، اوپه هره بيه چي وي ، داسلام اومسلمانانوپرضدداسي بدتبليغ کوي، چي هيڅ حدنه لري . دبنيادپالني په نامه له اسلامي ډلونه ديوه نړيوال نفرت دراپيداکولوپه تکل ليري نده ، چي ووايو، دکابل روان بدحالت دهمدغي جرياناتويوه کړۍ ده ، خودافسوس ځاي دادي، چي له لخوارلس کلني بيساري قربانۍ وروسته هم موږ دي جوګه نه شولو، چي دانقلاب دهدف اوارمان سره سم يوداسي حکومت جوړکړو، چي دزخمي هيواددهيلو ترجماني وکړي . دانتشاراوګډوډۍ پدي حالت کي هغه جهادي قيادت هم په صحنه کي دي، چي ډيراوږدوخت يې دروسانوپرضدملت رهبري کړ، خونه تفاهم اواقتدار ولري خبره دي ته رسولي، چي حالات ديوه نامعلوم لوري پرمخ روان دي، اوڅرګنده ده ، چي په دغسي يوه بهيرکي به خامخا زموږ دښمنان ګټه کوي، اوموږبه تشه لمن ورو . دحيرانۍ خبره داده ، چي دولاياتو اکثريت په منظم ډول دمجاهدينوله خواپه حکومتي سيستم اداره کيږي ، خومرکزکابل چي دولايتونوپه تناسب يې هرڅه ډيرمهم اوحساس دي، دمجاهدينو لوي ځواکونه اوجهادي مشران هم هلته تشريف لري، خوڅومره بدامني اوګډوډي چي په کابل کي ده ، په هيڅ .ډول له ولايتونوسره دمقايسي نده . داځکه چي زموږځيني مشران يوپربل داعتماد له اصل نه خلاص دي، خوکه دا مجاهدملت تري وپوښتي ، چي موږداڅوارلس کاله ستاسو په لارښوونه ديوه نابرابره جنګ سټونزي وزغملي، اوستاسوپه امامت اومشرتابه موباوروکړ . داخوددي لپاره نه وو، چي تاسوهريوبايد له خپل

ص٤

دافغانستان واکمنوته داتحادعلماو پيشنهادونه

دزمري ٦ نيټه :

څوورځي مخکي ددېني عالمانويوهيئت دافغانستان واکمنو سره دليدلو اوداسلامي نظام دپلي کولو په غرض کابل ته تللي و اوپه دي اړوندېي واکمنوته پيشنهادونه وړاند ې کړي . بي بي سي په دي هکله په کويټه کي دددي اتحاد دمشر عبدالله ذاکري سره يوه مرکه کړي، هغه په مرکه کي خپل پيشنهادونه داسي ذکرکړل :
١- په افغانستان کي بايد دحنفي مذهب په اساس اسلامي قانون عملي شي .
٢- داسلام دقانون مطابق يوه لويه اسلامي شوري چي لرترلږه زرتنه غړي ولري جوړه شي، پدي شوري کي بايد دټولو اقوامو، اطرافو اودولاياتونمايندګان شامل وي او زرترزره راوغوښتل شي اودوي بايد دافغانستان ددي موجوده مشکلاتو دحل لاره ولټوي اواختلافونه حل کړي .
٣- دفاع ، امنيت او داخله وزارتونه بايد دمجاهدينو کراموځخه جوړشي اودکابل ښارو ولاياتو امنيت دمجاهدينودشوري له لاري زرترزره تامين شي .
٤-دروس پلوه ملحد دولت بقايا وي چي په افغانستان کي پاتي دي که مليشه دي يادوستميان دي يا په هرنامه که پېژندل کيږي دي اوکه ازبک دابايد دولاياتواودکابل دمرکزځخه وايستل شي ، همداراز دحکومتي اداروڅخه وايستل شي يوفرد دهغوپه اسلامي حکومت کي نه ځاي لري اونه بايدڅوک ورته ځاي ورکړي .
٥- دبڅولپاره چي ملحددولت کوم کارونه په دفترونوکي تاکلي وو بايد هغه له کارونوڅخه وايستل شي په اسلامي حکومت کي ښځي ددي حق نه لري چي دفتري کاروکړي . ښځي بايدد دفاتروڅخه وايستل شي اوددوي دتعليم اوتعلم په باب باندي داسلامي حجاب اوسترمراعات وشي ، اسلامي تعليم اوتعلم دوي ته داسلام دقانون مطابق ورکړشي ، په غربي شکل چي دوي مکتبونوته ځي بايد دغه شکل چي تراوسه تللي دابايد بندشي .
٦- په راديوتلويزيون کي بايد

ص٤

دمصرحکومت پرمسلمانانو باندي زورظلم زيات کړي دي

قاهره - دزمري ٦ نيټه :

دمنځني ختيځ دځارني په نامه دبشردحقوقو بين المللي ډله وايي چي دمصرحکومت په خپل سرسياسي بنديان نيسي اوظلم ورباندي کوي .
دغي ډلي چي مرکزئي په نيويارک کي دي پرون يوه ويناخپره کړه او په هغي کي ئي دامريکا او اروپا څخه وغوښتل چي مصرته خپلي مرستي ترهغي پوري وځنډوي ترڅوچي دغه دبنديانو نيول او ځورونه ختم شي مصرتراسرائيلو وروسته تربل هرهيواددامريکازياته مرسته ترلاسه کوي امريکا هرکال مصرته څه دپاسه دوه مليارده ډالره مرسته ورکوي . دمصر مامورينو په دغه رپوټ باندي دتبصري څخه ډډه کړي اوواني چي قاهره ددغه رپوټ ځواب برابروي . په دي وروستيوکي مصري مقاماتوپرمسلمانانو باندي خپلي حملي زياتي کړي دي .
همدارازپه نيويارک کي دانساني حقونوڅارونکي ډلي دمصرساتنديه ځواکونه دسياسي بنديانوپه پرله پسي وهني ټکوني اوزوررولو تورن کړي دي . دغه ډله وائي چي مصري مقامات سياسي بنديان پرته له څه توره داوږدي مودي له پاره په بنداوتوقيف کي ساتي .ويل کيږي چي مصري پوليس نيول شووکسانوته شکنجي، دبريښنا ټکانونه اوجنسي ډول ډول تکليفونه ورکوي همداراز سياسي بنديان ترمياشتواوکله ناکله حتي ترکلونو کلونو پوري پرته له محاکمي ساتل کيږي ، کله ناکله داسي هم شوي دي چي بندي په رسمي ډول پريښودل شوي وي مګردامنيتي مامورينول. خواپه چټکي سره بيرته نيول شوي ي .

دعراق اوکويټ ترمينځ پولي وټاکلي شوي

بغداد - دزمري ٦ نيټه :

دملګروملتو دسازمان مفتشانويوهيئت نن بغداد ته ورسيد ټاکل شوي ده چي دغه هيئت دعراق دکرهني دوزارت ودانۍ پلټنه ونړزپيل کړي . اوس ايکيوس چي دعراق دبې وسلي کولو په چارو کي دملګروملتو دسازمان دخصوصي کونسل مشري په غاړه لري دنوموړي هيئت په مشري دپاناما څخه بغدادته روان شو . په يوبل رپوټ کي ويل شوي چي دملګروملتودامنيت دشوري رئيس وويل چي ددغي شوري ١٥ کسيزغړي په عراق باندي دلګول

ص٤

نقل وحرکت نيروهاي امريکا غرض حمله به عراق آغازشده است

واشنگټن - ٦ اسد :

کشتي طياره بردار امريکائي بنام جان اف کنيدي ازبندر سنتوما واقع درجزيره آتين بسوي درياي مديترانه بحرکت درآمد، يك مجموعه آتشبارضدموشك پاتريوت نيزکه شامل هشت دستگاه پرتاب وده هاموشك ضدموشك ميباشد امروز خاك آلمان را بقصد اميرنشين کويت ترك گفت .
بنابه گزارش خبرگزاري فرانسه نطاق وزارت دفاع امريکا ازتائيد خبرارسال چنين تسليحاتي خودداري کرد .
جورج بوش رئيس جمهوري امريکا روزيکشنبه گذشته عراق رابه اجراي کليه قطع نامه هاي سازمان ملل متحد وحل اختلافات مرزي اين کشوربا کويت دعوت کرده وهشدار داده بودکه عدم رعايت اين قطعنامه ها ازسوي عراق غيرقابل قبول خواهدبود .
مقامات رهبري حزب دموکرات امريکا امروز باابرازپشتيباني ازمواضع دولت بوش دربرابرعراق واحتمال استفاده ازنيروي نظامي عليه اين کشوربمنظور اجراي مفاد قطعنامه هاي سازمان ملل متحد اعلام داشتندکه ازآن بعنوان حربه

ص٤

دراثرحملهٔ مسلمانان به يك پوستهٔ پوليس درمصرسه نفرکشته شد

قاهره - ٦ اسد :

دوتن امروز درمصر بدست مسلمانان اين کشوردرمنطقه ديازوت کشته شد .
درپي حمله مسلمانان به صالون طعام خوري افسران پوليس درديازوت واقع درمصرعليا دومامور پوليس کشته وسه تن مجروح شد به گزارش منابع پوليس مصر حمله کنندگان باسلاح خودکاربه صالون طعام خوري حمله بردند .
جنرال محمدعبدالحليم موسي هفتادوسه نفرازطرفداران گروه هاي اسلامي به اتهام انجام اعمال خشونت آميزعليه ماموران پوليس رااعلان کرده بود. درهمين حال به نوشته روزنامه الاهرام درپي حمله مسلمانان ، مقررات منع عبورومرور درديازوت به اجرا گذاشته شدبه نوشته روزنامه زدوخورد ميان ماموران پوليس وگروه هاي مسلح اسلامي ببيارجدي بوده است ودردونقطه شهر اتفاق افتاده است .
درپي اين حادثه امروزيك مسئول جديد پوليس را درمنطقه آسيوط جنوب قاهره اعزام داشت ازسوي ديگربه نوشته روزنامه اپوزيسيون مصر (الوقت) ، مسلمانان دربيانيه هائي تهديد کرده اندکه پوسته پوليس مخالف بااسلام رانابود خواهندکرد. يکشنبه گذشته جنرال موسي خبردستگير ي

###

پيام تبريکی منسوبين رياست تعليم وتربيهٔ حزب اسلامی افغانستان

برادرمحترم ومجاهد استاد عبدالصبور«فريد» صدراعظم حکومت مؤقت اسلامي افغانستان! به نمايندگي ازشوراي رياست تعليم وتربيه وتمام استادان ، پرسونل اداري ومتعلمين اين رياست ورودفاتحانه جناب شمارابه شهرباستاني کابل خيرمقدم گفته ، پيروزي هاي روزافزون تانرادرامورجهادي واداري ازخداوند لايزال استدعادارم .
هماطوريکه شمافرزند نخبه اسلام درسنگرهاي جهاد بااراده واداره ، عالمانه ومدبرانه منحيث قايد قافلهٔ بزرك رادمردان جهاد قرارگرفته درسرکوبي دشمنان ديرين وسوگندخورده اسلام نقش بارزي راايفا کرديد يقين کامل داريم که باتوفيق وامداد الهي ، درشرايط حساس درادای مسئوليت هاي ايماني جزئي ترين فروگذاشت نکرده عملکردهاي اسلامي وسنجيده شده تان باعث سربلندي اين ملت مجاهد گرديده ، روزنه هاي خوشبختي وسعادت را درقبال خواهد داشت .
والسلام
قاضي محمودالحسن « جاهد »
رئيس تعلم وتربيه حزب اسلامي افغانستان

درموردسرنوشت نجيب هنوزتصميمی گرفته نشده

آيت الله محسني

کابل - ٦ اسد :

آيت الله محمدآصف محسني نطاق شوراي قيادي افغانستان گفته است که درباره سرنوشت نجيب رئيس رژيم قبلي کابل هنوزتصميمي گرفته نشده است .
نطاق شوراي قيادي نظرخودرادرکابل پس از آن ابراز نمودکه دکتورعبدالرحمن وزيرسرپرست هوانوردي وتوريزم ديروز درلندن گفت که سرنوشت نجيب را ميتوان بعدازانجام يك ريفراندم تعين کرد. آيت الله محسني شخصاً معتقداست که نجيب بايد محاکمه شودگفته مي شودکه نجيب درساختمان سازمان ملل درکابل پناهنده مي باشد .

اسرائيل دمنځني ختيځ دسولي دخبرو ... صادق نه دي

تل ابيب - دزمري ٦ نيټه :

داسرائيلو راديووائي چي په واشنګټن کي دمنځني ختيځ دسولي دخبرو دبل پړاو لپاره به نيټه ترهغه پوري ونه ټاکلي شي چي داسرائيلو صدراعظم اسحق رابين دروان عبري کال داګست دمياشتي په لمړيو شپو اوورځوکي په واشنګټن کي دبوش سره نه وي کتلي . دامريکا دبهرنيو چارو وزير جيمزبيکر غواړي چي داخبري داګست دمياشتي په لسمه نيټه پيل شي مګر اسرائيلي مامورين نه غواړي چي دغه خبري په هغه اونۍ کي وشي چي بوش اورابين سره غونډه کوي دوي وائي چي دسولي خبري بايد داګست دمياشتي په پاي کي په واشنګټن کي ترسره شي او وروسته منځني ختيځ ته نيردي کوم ځا ي کي وشي داسرائيلو راديووائي چي دمنځني ختيځ دسولي خبري چي داسرائيلو صدراعظم ئي پيشنهادکړي دي بايد پرله پسي او بې وقفي رواني وي اوپه سيمه کي دي وشي . تراوسه پوري اسرائيلو، سوريي اوفلسطين بله مياشت په واشنګټن کي دخبرودپيل کيدوسره موافقه کړي ده داسي ښکاري چي اسرائيل دخبروپه هکله صادق نه دي

شورای امنيت اعلان کردکه تحريم هاي اقتصادی عليه عراق بقوت خودباقي خواهدماند

ژنيو - ٦ اسد :

شوراي امنيت سازمان ملل متحد ديشب اعلام کردکه تحريم هاي اقتصادي به اجرادرآمده ازآغاز جنگ خليج فارس عليه عراق بقوت خود باقي، خواهد ماند. شوراي امنيت عراق رابه عدم اجراي تصميمات سازمان ملل متحد متهم ساخت .
رئيس شوراي امنيت درپايان جلسه غيررسمي ديشب اعلام داشت که اعضاي اين شورا بالغوتحريم ها عليه عراق موافقت نکرده است .
پانزده کشورعضوشوراي امنيت همچنين گزارش رئيس کميسيون مخصوص سازمان ملل متحدبراي انهدام سلاح هاي غيرمتعارف عراق رامورد بررسي قراردادند .
رئيس کميسيون مخصوص دراين گزارش اعلام کرده است که گروه کارشناسان سازمان ملل متحد ماموريت دارد تاکليه تجهيزات مربوط به سلاحهاي تخريبي اعم ازکيميايي ، بالستيکي بيولوژي وياهسته اي رابه مکاني که توسط کميسيون مخصوص تعين خواهدشد انتقال دهد .

###

چندکلمه درخصوص تقرري ها

فريدون « افرسيابي »

از(۵) ثورامسال به اينسوتاآنجاكه درمطبوعات جهادي به ملاحظه رسيده هر نشريه درمسايلي كه بمنافع دولت اسلامي مربوط است ازديدگاه خاص تنظيمي نگريسته اند .
مثلا وقتي بنابوده مصروفيت هاي روًساي ارگانهاي دولتي راانعكاس بدهند، تنهااز روًساومسئوليني يادآوري ميكنندكه ازطرف تنظيم متعلق شان دردولت ايفاي وظيفه ميكند .
بسياروقت ديده شده كه نشرات جمعيت تنهاازرئيس دولت ووزيردفاع ونشرات حزب اسلامي نيزازفعاليتهاي صدراعظم تذكربعمل مي آورند . حتي دردادن تبريكيه هانيزسلسله مراتب مدنظرگرفته نميشود . دريكجامي بينيدكه وزيردفاع رابالاترازصدراعظم ورئيس دولت ودرجاي ديگرصدراعظم رامقدم برياست دولت بحساب آورده اند.
درسلسله تعينات نيز همين تعامل مدنظرگرفته ميشود،اگرچه تعين وتقررهاهنوزشكل آخري خودرانگرفته ولي درآنچه تاحال انجام گرفته ديده ميشودكه دفاترمهم وزارت خانه ها ازطرف يك تنظيم بخصوصي اشغال شده كه درتقسيم بندي هااين وزارت خانه به همان تنظيم تعلق گرفته است .
بسياري تنظيم هابراي اينكه درارگانهاافراد خودشانراجابجاكنندمتوجه تعهدانقلابي وكارآئي افراد نميشوند ، همينكه "تعلقات " به حيث ملاك قرارميگيرد وتعهدوتخصص به حاشيه ميرود، اين وضع دربسيارموارد باعث شده كه عناصر بسيارلازم ودردبخور صرفا به لحاظ چيئل بنديهاي تنظيمي دركارهاي كه لازم است ، گماشته نشوند .
حالالزومي ندارد كه اينجاازافراد متخصصي اسم ببريم ، مشكل خيلي عام است وهمه درجريان اند. چندي قبل يك وزيرحكومت به اقارب خود احوال داده بودكه هرقدرادم بيكارداريد بياوريدكه برايشان كارمناسب بدهم ، وزيرگفته بودكه همين يك شانس است وبايد ازآن حداغظمي استفاده كرد! حتي ديده شده كه افراد معتقدبه اسلام وانقلاب وافراد داراي تجربه وتخصص صرفا به اين خاطررانده شده اندكه جايي براي تقرردوستان وتعلقداران رئيس صاحب وياوزيرصاحب برابرشده باشد .
درمواردي به اثر تعلقات خاص افرادي شامل پست هاي مهم شده اندكه هيچگونه تعهدولبستگي به اهداف جهادي نداشته اند. چندي قبل جائي برسراين موضوع كه افغانستان اسلامي ممكن است محل تربيت وتجمع مبارزين اسلامي سايركشورها قراربگيردبحث بود. يك ديپلمات افغاني كه شغلش درحكومت اسلامي مهم است به مهمانان خارجي اطمينان داده بود " حكومت افغانستان هيچگاه نخواهدگذاشت كه انقلاب اسلامي ازاين كشوربه سايركشورها صادرشود!" مي بينيدكه بخاطراساس شمردن " تعلقات " وضعيف شمردن " تعهدات اسلامي وجهادي " افرادي كه باب خاطر پيترتامسن مي باشند درحكومت اسلامي زمينهٌ كارپيدامپكند .
بهرحال، بسياري شايد درين فكركه دفاتريك ارگان ازطرف افراد تنظيم مربوط شان اداره شود نيت خيرداشته وبه اين عقيده باشندكه ازاين راه ميتوانند بهترخدمت كنند وبراي تنظيم شان افتخارونام نيكي حاصل نمايند حالانكه پيشرفت كارهابه تعهداسلامي وكارآئي فني افراد منحصر مي باشد .
ازجانب ديگرميدانيم كه پيشرفت كاريك وزارت خانه تنهابطورمجرد بخود آن وزارت خانه مربوط نيست . اگر درتعينات وزارت خانه هااصل تعهد وتخصص مدنظرگرفته شود و"تعلقات " تحت هرعنواني كه باشددرمداردوم برود بطوريقين كه وزارت خانه مذكور ميتواند جاي خودرادربين مردم بازنمايدوهمكاري وهمدردي سايرارگانها رابطرف خودجلب نمايد. واگر ديده شودكه دريك وزارت خانه ويا ارگان دولتي انحصارطلبي وخودمحوري اصل بوده ودرتعينات تعهداسلامي ولياقت علمي وفني اعتباري نداشته به هيجوجه عناصر بيرون ازآن تنظيم حاضرنخواهند شدكه باآن وزارت خانه دست همكاري وتعاون بدهند .
مردم ازتنظيم هاي جمعيت وحزب اسلامي كه رأس دولت فعلي راساخته اند انتظاردارند كه درتعيين وتقرر ارگانهاي دولتي مربوط شان برون ازحدود تعلقات عمل نمايند .
امروز همه ملت به عملكرد اين دوحزب قيمت ميدهندومسلم است كه بدون كارهماهنگ وبدون اينكه درتعينات اصل تعهدراپذيرفته باشيم نميشودكاري ازپيش بردوبه اعتماد توده هادسترسي پيداكرد .

بارجوع به كتاب خدا جنگ هاي ذات البيني پايان مي يابد

سيدعلام الدين « البرء »

... ومالم تحكم أئمتهم بكتاب الله ، إلاجعل بأسهم بينهم .
چيزيكه نمي توان انكاركردكه بزرگترين ضربه به حيثيت ووقارانقلاب اسلامي ملت مسلمان افغان وارد آورد، جنگ هاي ذات البيني بين گروه هاي جهادي قبل ازتسخيروتحويل كابل بودومتأسفانه بعدازتحويل كابل بزرگترشدوامبدهارابه يأس مبدل نمودواكنون كه بيشتراز سه ماه ازانتقال قدرت ازرژيم كمونستي سابق به رژيم اسلامي فعلي مي گذرد حكومت ويادولتيكه توانسته باشد حداقل برخيابانهاي كابل حكمراني داشته باشد ، به ملاحظه نمي رسد واين بيم وجود داردكه وضعيت كنوني براي مدت چندادامه پيداكند .
همه مي دانيم كه وضعيت كنوني حيثيت ووقارحكومت ودولت فعلي رانه تنها درنزدملت مسلمان مازير سوال برده بلكه كشورهاي ديگرنيز ازآن متاثر شده،درمورد شناخت واعتراف آن تعلل ورزيده اند وسازمان هاي بين المللي وكشورهاكمك هاي خود رامنوط به تأمين امنيت كشورنموده ازاعطاي آن تاحال معذرت خواسته اند .
هرقدروضعيت حاكم موجود راتوصيف نمايم يقينا اززبان آنچه كه مي گذرد قاصريم، ناگواري ها وناخوبي ها آنقدرزياداندكه قادربه محاسبه آن نيستم .
اگربه جستجوي علل آن برايم حوادث ووقايع گذشته رابه تحليل بگيريم بعدازتجسم وتبارز علل زيادوگوناگون به اين نتيجه مي رسيم كه درواقع علت اصلي واساسي وجودوادامه وضعيت ناگوارفعلي همانامتيت هاي بوده وهست كه درنتيجه آن ملت برنگ هاي گوناگون رنگين گرديده وبعداين رنگ هابه مقابلهٌ همديگرفته اندونزديك است اين شيوه يكي ازخصلتً هاي اين ملت محسوب شود-خصايل هرملت باعث عزت وذلت آن ميگردد . اصطلاح تغييردروني يك فردويايك قوم به معناي تبديل عادات وروش ها وخصلت هاي آن فرد وقوم است . ارشادالهي است كه خداوند حال قومي را تغيير (بهترنمي كند) نمي دهدمگرآنكه آن قوم حالت دروني خويش راتغييربدهد. اكنون مابه مصيبتي گرفتاريم كه راه بيرون شدن آنراتاحال نيافته ايم . هرانديشه وتدبيري كه بكاربرده ميشود باعث ايجاد فتنه وجنگ ديگرميگردد ، خود نمايانگرآن است كه هنوز به جاده مستقيمي كه منتج به حل اين مشكلات ومصائب شود وارد نشده ايم . چه خوب است واقعيت هاي موجودراحسب ظن وگمان وپندارهاي قبلي تعبيروتفسيرنكرده ، موجوديت آنهاپذيرفته شود وچاره رفع آن جستجو گردد . راه نجات ملت وقومي كه به دردي مبتلاميشودوريشه هاي آن درد را ارزيابي وشناسايي نمي كند بسته است ، اگرهزاران تدبيروانديشه ومداواي سقراطي وبقراطي رابيازمايدبه نتيجه بي كه لازم است نخواهدرسيد .
اگرريشه هاي درد را ارزيابي كند سهل ترمي تواند خويش را ازورطه هلاكت برهاند .
پيغمبربزرگوار اسلام صلي الله عليه وسلم دردهاي مزمن ومهلك كه بنياداقوام وملت هارامي لرزاند وآنهارا بسوي هبوط وسقوط مي كشاند، بيان داشته امت مسلمه را ازآن برحذرنموده است كه اگرروزي به اين دردهاگرفتارآيند (به اين خصلت هاعادت كنند) چه سرنوشتي درانتظارشان خواهد بود :
- ورري بن ماجه ، والبزار ، والبيهقي - واللفظ له - عن بن عمرو رضي الله عنهما أن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال :" يامعشرالمهاجرين خصال خمس - إن ابتليتم بهن ونزلن بكم أعوذبالله أن تدركوهن - : لم تظهرالفاحشة في قوم قط حتي يعلنوابهاإلافشافيهم الاوجاع، التي لم تكن في اسلافهم ولم ينقصوالمكيال والميزان ، الا اخذوا بالسنين وشدة المؤنة وجود سلطان ، ولم يمنعوازكاة اموالهم ، إلامنعوا القطرمن السماء، ولو لاالبهائم لم يمطروا ، ولم ينقضوا عهدالله وعهدرسوله ، إلاسلط عليهم عدومن غيرهم فيأخذ بعض مافي ايديهم ، ومالم تحكم أئمتهم بكتاب الله ، إلاجعل بأسهم بينهم " .
(فقه السنة - ص ۲۸. ، بحث زكاة)
حقا، ومابنطق عن الهوا، إن هوالا وحي يوحي . وقتي ذوي العقل اين ارشادنبوي راازنظرمي گذراند كه چندين صدسال قبل ابرازگرديده است اگرايمان نمي آوردوياايمانش تجديدنميگردد وبرايمانش نمي افزايد ظالمترازآن موجودي درقطارموجودات وجودندارد واين صفت كه وي احقرترازحيوان است برقدوقامت اوسازگاري دارد .
نخستين سبب كه باعث فتح باب سقوط ملت ، قوم وامتي ميگردد رايج وعلني بودن فحشا (زنا) است كه آن قوم باافتخار آنراانجام مي دهد ومقدمات آن دركوچه وبازار، مجلس ومحفل آشكارا انجام ميشود ورمزترقي وتعالي وحسن وخوبي محسوب ميگردد.جوامع كه دين ندارندواين حقي راكه براي زن دادندوبه آن مباهات كردندكه انساني را ازقيداسارت آزادكرده وبشرمظلومي را بداداش رسيده اند، همين آزادي اختلاط مرد وزن بوده است وبيشترازآن چيزي به زن نداده اند. اگرچه خطاب حديث مبارك به مهاجرين است وتنبيه به مسلمين وجوامع كفري هم ازبي آمد شوم اين خصلت مصئون نيستند. چنانچه امروز ضجه وشكوه شان ازامراض چون ايدز وغيره كه درماني رابرايش نمي شناسند وپيشينان شان به آن مبتلا نبوده اند، بالاست.
هرقومي كه هنگام بيع وشراء به اصطلاح ترازو زدن رايج گرديدبه قحطي گرفتار آمد ومورد قساوت وظلم وستم حاكمان شان قرارگرفت و طائفه ايكه ازدادن زكاة اموال شان اباورزيدند به مصيبت خشك سالي دچارگرديده انداگرزنده جان هاي ديگرنباشد قطره باران برايشان فرود نمي آمد وآنانيكه عهد وپيمان خدا(ج) ورسولش راشكستاندند برايشان دشمن بيگانه مسلط گرديدداراي واموال شان را ازايشان گرفت . اين هاهمه چنان روشن اندكه ميشودآنراازبديهيات شمردوصدهانمونه ميتوان پيش كرد ازينرو حاجت به اين نداردكه مثال هايي آورده شود. وهكذا پيشوايان وامامان قوميكه به اساس كتاب خدا وسنت پيامبر اوحكم نه نمودند وعمل نكردند به مصيبت جنگ هاي ذات البيني گرفتارآمدند .
همين مصيبت راملت افغان هم اكنون تحمل مي كند درخيابان هاي مركز كشورافراد وابسته به يك گروه مذهبي ازبيم گروه ومذهب ديگري گشت وگذاركرده نمي توانند . آيا بجانيست اگر بگوييم پيشوايان اين طرف ها درتعميل حكم خداوند ودساتير والاي اووپيمبرش تساهل نموده اند ولامحال به سرنوشت محتوم جنگ ذات البيني دچار اند . بطورمثال اگرهركدام ايشان (ميگويندكه جنگ هابه اساس هدايت آنهاآغازنشده وخبرندارند) مسئولين قتل وكشتار، غارت، اسارت مربوط به گروه خويش رابه ميدان قصاص وجبران وقضامي كشاندياكشاندوقاتل رابه چوبه دارسواركند وغارتگررا به قطع دست وپا . آيا وضعيت موجودبه پايان نمي رسد؟ ديگرچوروچپاول وقتل وغارت مي تواند وجود داشته باشد ؟ هرگزنه مشكل اساسي اين است كه بزرگان جرأت ورغبت اعمال حكم ود ساتير شرع رابرطرفداران خويش ندارند ويا ازآن تغافل مي كنند وجزاين دواي براي مداواي اين درد وجودندارد .
اگر واقعا همه طرفداروياخواهان آن هستيم كه امنيت وقانون وشرايط وزمينه تطبيق ماانزل الله دركشور بوجودآيد پس بايد هركه از خود آغازكند . نخست ازهمه خود را ازبي راهه روي واعمال ناشايسته بر گردانيم وبعدازديگران تقاضانمائيم كه به آن گردن نهند . اين چگونه عدالتي خواهدبودكه قاتلين گذشته به قصاص مجازات نشوند ، گفته شودقاتلين آينده قصاص خواهندشد.
شكي وجود ندارد كه يگانه وآسان ترين راه پايان جنگ هاي بين خودي رجوع به احكام شرع ، قرآن وسنت است . زيرا قرآن وسنت ، طرفدارخاص هيچ فرد وگروهي نيست واحكام وفيصله هاي آن ازقبل معلوم وثابت بوده مانند فيصله هاي قوانين وضعي بادرنظرداشت منفعت اين وآن دست خوش تغييروتبديل نمي گردد ، نه كثرت مي تواند قوانين ثابت شرع راتغييربدهد ونه اقليت ازآن احساس حق تلفي مي كند .
###

پرعراق باندي دامريكادبيايرغل گواښ اوداسلامي نړۍ مسئوليت

رحماني

دعوامواوولسي خلكو ترمنځ دااصطلاح بيخي عامه شوې چې وايي " زورته پوله نشته " اوياداچې د" زورورواوبه به پيچومي خېژي " دااصطلاح هسې بېځايه اويې مفهومه شي نه دي چې په دې انساني نړۍ كې دي مورداودعمل ځاي ونه لري بلكي دغه متل يااصطلاح يوازي دافرادو ترمنځ نه ، بلكي دمختلفو انساني ټولنواوان چې دهيوادونوبه خپل منځي اړيكوكې ترهرڅه زيات مصداقونه لري، اوهره ورځ دنړي تبليغاتي چينلونه (راديوګاني اواخبارونه) دهيوادونو ترمنځ دزوروروودتيري اوبرغل يوه نه يوه پېښه يادوي چې يوهيوادددي بې جوازه پربل كړې وي اوياددي دتيري لپاره ځان آماده كوي، نن سبادنړي ګڼ شمير ستونزي له همدي اړخ راپېښې شوي چي داخبارونودتوجه مركزګرځيدلي دي، اوټولي پاڼي يې په همدي وكې دي. اوهرنوي اخبارنوي پيښي منعكسوي چي ډېره نوي اوتازه يې اوس پرعراق باندي دامريكا، بريتانيااوفرانسي دهيوادونو له خوا دبيايرغل ګواښونه دي، دغه استعماري هيوادونه ، پرته له دي چي دځان لپاره څه قانوني جوازپيداكړي ، ګواښ كوي كه چيري عراق دا اوهغه كار، ونه كړ، نوحمله به پري وشي، بيارديه شي تباه به شي اوداسي نور، عراق ته دالومړي ګواښ نه دي ټولوته معلومه ده چې تقريبا يونيم كال وړاندي دهمدغوهيوادونو دالوتكو او توغندېو اولكونوبوځ پواسطه عراق په كنډواله بدل شواوپه لكونو بې ګناه اوبي دفاع مسلمان عراقيان په وينوكي ولمبيدل ، اوبيا له هماغه نيتي ووروسته چي عراق خپله ماتي ومنله له خپل تيري څخه يې لاس واخست ، نه يوازي دملګرومللتودامنيت شوري دپريكړويه جامه كي هره ورځ پري ديرغل ګواښ كيږي چي دهمدغواستعماري هيوادويه ځانګړي توګه دامريكا له خوا پري داسي بنديزونه ولګيدل دچاخبره چي بوكي هم نه دبل هيوادنه هلته داخل شي اونه دوي چيرته خپل مواد صادركړي شي، برسيره پردي دخوراكي موادوبنديزونه چي دټولنيوالو اوبشري حقوقوڅخه منافي دي هم پري ولګيدل . په هيڅ قانون كي ددي خبري جوازنشته چي په چادي دروي اودوابنده شي، كه څه هم هرڅومره لوي مجرم وي ولي په اصطلاح دنړي دبشرحقوقو ترټولو لوي مدافع هيوادونودعراق دمسلمان ولس په ماشومانوهم دوا، شيدي اوډوډي بندي كړي چي دځينو احصائيولِه مخي په تيربونيم كال كي ترځلوېښتوزروزيات ماشومان دخوراكي موادودكمبود له امله خپل ژوند له لاسه وركړاوهمداراز زيات شميريې په مزمنوناروغيو اخته شول بده خوداچي اسلامي هيوادونه هم دامريكا له ويري په خپلومسلمانوورونو هرڅه بندكړل .
خوددي ټولو سره سره عراقي ولس حوصله له لاسه ورنكړه اودخپل ځان ژوندي ساتلولپاره يي دبنديزونو كلكه مقابله وكړه ، اوبه اصطلاح دغه بنديزونه دامريكادتصورخلاف چندان كامياب نه شول . امريكادامنيت په شوري كي داسي پريكړه ليك هم تصويب كړچي دعراق ټول دفاعي وسايل اواټومي پروګرامونه دي له منځه لاړشي لاداچي دتباه كولو مصارف يې دي هم له عراق څخه واخستل شي . داكارهم وشو اوبه تيربونيم كال كي پرله پسې دملګرومللتوبه نامه دامريكا، بريتانيې اوفرانسي هينتونه لګيادي دعراق دفاعي وسايل تباه كوي ولي په څنګ كي يې اشغالګراسرائيل داهم پياوړي كوي اوبه بل هيڅ هيوادغسي پريكړې نه عملي كيږي يوازي دااسلامي هيوادونه دي چې دامريكا په نظركي مجرم بنكاري اودراتلونكي لپاره يې دتباهي پروګرامونه جوړوي .
په هرصورت داهرڅه وشول اووروان دي، خوددي ټولو سره سره عراق بياهم په پښوولاړدي ، دغه كاردامريكااودهغې داتهيوالانولپاره دمنلواوتحمل وړنه بنكاري، نو اوس بيالګيادي څه داسي پلمه اوبهانه ولټوي چې عراق بوځل بياله خاوروسره خاوري كړي اودملګرومللتونو په جامه كي دخپلو مفتشينودجوړوشوواواخستل شوبو نقشومطابق ددغه اسلامي هيوادحساس اودكارځايونه تباه كړي چي په تيره جګړه كي سالم پاتي وو ترڅوعراق بيا سرپورته نه كړي اوبه په پښوودريږي له همدي امله اوس په دې بهانه چي عراق دملګرومللتوهيئت ته اجازه نه وركوي چي دكرهني وزارت په وداني كي اتومي اسنادواومواد وګوري دغواستعمارچيانو يوځل بيا ګواښ كړي چي په عراق به برغل وكړي اودايرغل به دملګرومللتودامنيت شوري پريكړي اواجازي ته ضرورت هم نه لري ځكه چي هغې لاپخواداجازه وركړيده . عراق كه څه هم چي داوايي چي دكرهني وزارت ته دملګرومللتونودهيئت نتوتل دپريكرومخالف دي ځكه په پريكړوكي دفاعي اونظامي ځايونه ذكرشوي نه ملكي ولي بياهم داخبره مني چي دبورته دريوهيوادونه پرته دنوروهيوادوهيئت دي دغه وزارت وګوري. خو امريكا اوانهيوالان يې داخبره كافي نه بولي، اصراركوي چي دهمدوي تاكل شوي هيئت به نوموړي ځاي ګوري . لاداچي امريكاپرعراق باندي ديرغل ترتيبات هم نيولي په بوه اوبل ځاي كي يې توغوندي اوالوتكي هم ځاي په ځاي كړيدي .
له دي څخه داخبره بيخي څرګنديږي چي دامريكا مطلب دتفتيش او كتلونه بلكي هسي پرعراق باندي دحملي پلمه لټول دي ، ترڅوبه دي كار سره دامريكا په راتلونكو انتخاباتوكي دبهوديانوراېي اوحمايت ترلاسه كړي ځكه نودامريكادواړه انتخاباتي حريف ګوندونه پرعراق باندي ديرغل سره مخالفت نه بنيي . بلكي هڅه كوي چي ديوه اسلامي هيواد په ځپلوسره بهودانوصاري خوښ وساتي .
داخوشوه دامريكا اوداتهيوالانوخبره يي، چي هيڅوك بايدتري ګيله ونه كړي ځكه دغه هيوادونه دخپل استعماري خاصيت له امله داډول كارونه كوي، لكه چي دلړم فطري خاصيت نيش وهل دي همداسي داستعمارفطري ځانګړنه برغل اوتيري دي، ځكه چي دزوربه وړاندي قانون نشته اونه يي زوروږ دقانون پروالري . ولي تركومه چي په اسلامي نړي اوعربي هيوادونو پوري اړه لري بايد لرلبيدار شي اودبوهمشترك اوګډ دريځ په خپلولوسره دامريكا اوانهيوالانوبي مقابله وكړي ، هغوي ديته مجبوركړي چي له دغه ډول تيريو څخه لاس واخلي، په ملګرومللتوكي داسي بوقوت له ځانه جوړكړي چي استعمارچيان ونشي كولاي دغه نړيواله اداره دلاس آله اودخپلو تيريو سپركړي، كه اسلامي هيوادونه له عقلمندي اوهوښياري لخه كارواخلي . هسې ديوه اوبل استعماري هيوادبه قومانده حركت وكړي لكه چي پخوايي كړي اوتيركال يې دعراق په خلاف هم وكړنوداابايد په يادولري چي دوي به هم هريوبه يوازي ځان داستعمارچيانودتجاوزهدف ګرځي اودعراق په سرنوشت به اخته كيږي .
په هرصورت بياهم تيركال له عراق سره مخالفت چي پركوټ بې تيري كړي وو داسلامي هيوادونولپاره څه مجوزووخوبيا هم پكارداوه چي دعراق محه اسلامي هيوادونيولي واي ، اوامريكا اواستعمارچيانوته بې اجازه نه وي وركړي چي پرعراق باندي بې رحمانه بمباري اويرغل كړي واي ځكه دامريكاهدف دكويټ آزادي نه بلكي داسلامي هيوادبه حيث دعراق دقوي جنګي ماشين ماتول و هغه چي په سيمه كي اسرائيل تري په ويره كي وو كه رښتياهم دكويټ آزادي هدف واي نودعراق له تجاوز ووروسته بايد پرعراق هم تجاوزاوبنديزلګوشوي واي خومور وينوچي عراق په خپلو ټولوتيرو پښيماني ښودلي خوله دي سره سره بياهم دبنديزونوبواسطه ځپل كيږي .
اسلامي هيوادونه پكارنه ده چي دعراق مسلمان ولس په خپلوكي له نورووسره مرسته وكړي ، اوبردو ته اجازه ورنه كړي چي ددوي له خاوري څخه دي عراق يوځل بيا بمباردشي برخلاف اسلامي هيوادونه بايد دعراق دمسلمان ولس په خاطرداستعمارچيانودحملي مقابله وكړي داسي نه چي شين چراغ ورته بل كړي چي دتجاوزسره به مرسته وكړي لكه چي ځيني خبرونه وايي چي دعراق بوهمسايه هيواد امريكادبهرنيوچارو وزيرته وعده وركړي چي دملك هوايي اوي به يې په اختيارکي ورکړي .
داكاربه حقيقت كي دځان وژنه ده اوبه راتلونكي كي دپردو ديرغل به وړاندي خپل مټ خالي كول دي . پدي هكله دتركيي موقف ترډيره حده معقول بنكاري چي ويلي دي دچاطياروته به اجازه ورنكړي چي ددوي دهوايي ډګرونو څخه پرعراق حمله وكړي . كه ټول اسلامي هيوادونه دامريكانه برغل سره په دې شكل لړشانته مخالفت هم وښيي نوامريكابه داډول غلطي ونه كړي اونه به داسلامي نړي دبښمني ته زړه سه كړي، كه بياهم دپخواشان ټول دامريكاقوماندي ته لبيك ووايي بيادي هرهيواد پخپل وارديته ځان تياركړي چي دعراق په سرنوشت به اخته كيږي پكارداده چي اسلامي نړي بايد خپل اسلامي مسئوليت درك كړي اوپرهراسلامي هيوادبرغل پرخپل ځان برغل وبولي اوبه ميرانه يې مدافعه وكړي نووبلاي شوچي اسلامي كنفرانس ، عربي ټولني، دخليج دهمكاري شوري دالكوسازمان اوهراسلامي هيوادته بيل بيل دالازمه ده چي دخپل غړي اسلامي ورور هيواد دفاع وكړي خپل منځي مشكل پخپله حل كړي ، نوروته دتجاوزلاره ورنكړي، كه داكارنه شي كولاي بايي نه كوي بيا نودغه ډول به نامه سازمانونوته هيڅ ضرورت نشته نه بايدهسي بيځايه مصارف پري وشي

هيئت سوداني ايران راترك گفت

تهران - ۶ اسد :
هيئتي متشكل ازچندين تن ازوزراي كابينهٌ سودان بر رياست دگرمن محمدسليمان وزيرفرهنگ واطلاعات اين كشوربس ازسه روزتوقف درايران ومذاكره بامقامات ايران ، تهران راترك گفت. ضمن اين ديدار توافق هايي درزمينه روابط تجارتي بين دوكشور ازجمله صدورنفت ايران به سودان وصدور گوشت ازسودان به ايران به امضاء رسيد . ونيز توافق شدكه ايران سودان را درپيشرفت صنعت نفت ياري دهد. ايران همچنين قبول كرده است كه سودان رادرتشكيل بازار آزاد درخرطوم وآموزش كارمندان صنعت باندكاري ياري دهد .

ترکومي به دافغانستان زړه کابل کمونست رژيم دوسله والو بقاياوله لاسه زخمي، زخمي وي ؟

محمدخليل

دنجيب دګوډاګي حکومت له ړنګيدونه وروسته دافغانستان مظلوم اوزوريدلي ولس پدي ارمان کي وچي نوربه خپل ژوند داسلام دسپيڅلي دين ترسيوري لاندي تيرکړي اودبرحق دين له خوږونه به برخمن وګرځي، خوله بده مرغه ژمويدګينو ورونو دناپوهي اونااهلي په وجه تراوسه پوري دکابل ښاريان داسلامي انقلاب له خوږونه ډيرلوي اوبي برخي پاتي شويدي . هريوهدا پوښتنه کوي چي زموږارمانونه اوخوږونه به کله تحقق پيداکوي او کله به ديدامني ، وحشت ويري اوچورچپاول ناولي اوپوګنوونکي فضا خنمه شي ؟ هغه به کومه ورځ وي چي موږ دعدل، انصاف، اومحبت نه ډک داسلامي حکومت پلوشي خوري وري وګورو؟ پدي کي هيڅ شک نشته چي دهرمومن اوزوريدلي افغان پواځيني ارمان دادي چي ژرترژره داسلامي انقلاب روښانه وړانګي په ګردافغانستان کي خپل څادر خورکړي داڅکه چي دوي يونيم ميلون قرباني دهمدي لوي اوسپيڅلي مقصدلپاره ورکړيده .

دافغانستان غيرتي اومجاهدولس چي له اسلام سره دميني اومحبت په ميدان کي له هرچانه مخکي اوبي ساري دي به کابل کي دموجوده پريشانوونکي وضعي اوفضاډيرزيات غمجن اوقهرجن کړيدي اوپه پوره بي صبري سره انتظارکوي چي ژرترژره دي دغه ناولي اووېرجنه فضا، ختمه کړاي شي .

دافغانستان دمجاهدولس دصبرپيمانه نوره ډکه شويده اودهغوعناصرو زغملوته زړه نشي ښه کولي چي دکمونست رژيم وسله وال بقاياني خپل ځان سره ودرولي دي اوکابل ښارئي دهغوي په رحم اوکرم پريښي دي . هرڅوك پدي حقيقت ښه پوهيږي چي تراوسه پوري دناآرامي اصل عاملين دکمونست رژيم دبقاياوهغه مرستيالان دي چي وسله په لاس بي دمجاهداوقهرمان ولس په خلاف ودرولي دي اودکابل هره کوڅه ددوي له بدکاري اوبدکرداري نه فريادونه کوي . دافغانستان هرمجاهدوګري دکمونست رژيم دبقاياو له سرپرستي کوونکوڅخه په دردمندانه توګه اپيل کوي چي نوري خپلي سهوي اونااهلي جبران کړي اوچي څومره ژرکيداي شي پرخپلو مسلمانو وګرواعتبار اواعتماد وکړي څکه چي داسلام اودافغانستان دخاوري خيرخواه اواصلي وارثين همدوي دي .

همدوي داسلام دسرلوړي اودافغانستان دخاوري آزادي لپاره خپل سرونه قربان کړيدي . په اسلام اودافغانستان پرمسلمان ولس همدوي دردېري اوهمدوي دي چي دافغانستان دزوريدلي ولس دخوشحالي اودخاوري دسمسورتيا ارمالجن دي . لدي حقيقت نه هيڅوك انکارنشي کولي چي داسلام سرلوړي اودافغانستان دخاوري خوشحالي بواځي دهغه قهرمان اومجاهد ولس آرمان کيداي شي چي څوارلس کاله ئي پرله پسي دسرونو قرباني ورکړيدي اوډول ډول کړاوونه اوتکليفونه ئي زغملي دي . آخرله بوي داسي ولي نه چي خپل ټول وخت ئي دمسلمانانو دسرکوبولواودهريانو دحفاظت لپاره وي داڅه څرنګه کيداي شي چي دوي دي داسلام اودمسلمانانو خيرخواه وګرځي؟ دافغانستان ګردوګړو پخپلو سترګو ددوي مخکيني وحشت هم ليدلي و اوننن هم ګرده دنيا په کابل ښارکي ددوي ظلم ګډوډي اوچوروچپاول ننداري کوي ، دافغانستان دخاوري تجزيه کول اوقومي اوژبني تعصباتوپيداکولو دسبي اوسازشونه له هيڅ چانه پټ نه دي پاتي .

